د افغـــانستـــان اسـلامي امـــارت      امارت اسلامی افغانستان

د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره      اداره خط آهن افغانستان

Islamic Emirate of Afghanistan

Afghanistan Railway Authority

د دفتر رياست

د نشراتو آمريت

---

بسم الله الرحمن الرحيم

# په ۱۴۴۴ هـ.ق. کال کې د افغانستان د اوسپنې پټلۍ ادارې عمده فعاليتونه او لاسته راوړنې

| د لاسته راوړنو لنډيز (خلاصه) |
|---|
| ۱- د تېر کال په پرتله د اوسپنې پټلۍ له لارې د سوداګريزو توکو د انتقالاتو په کچه کې (۲۵) سلنه ډيروالی.<br>۲- د تېر کال په پرتله د اوسپنې پټلۍ د خدمتونو له درکه په ترلاسه شوي عوايدو کې (۲۵) سلنه ډيروالی.<br>۳- ترکمنستان هېواد ته د اوسپنې پټلۍ په برخه کې د ۱۳ تنه تخنيکي کارکوونکو لېږل او د هغوی له تجربو د اوسپنې پټلۍ په پراختيا کې ګټه اخيستل.<br>۴- ايران هېواد ته د ريلي نقليه وسـيلې (درزين) او د اوســپنې پټلۍ د ارتباطاتو او سـيګنالينګ په برخه کې د ۴ تنه تخنيکي کارکوونکو لېږل او د هغوی له تجربو د اوسپنې پټلۍ په پراختيا کې ګټه اخيستل.<br>۵- د حيرتان – مزارشريف اوســپنې پټلۍ د انتقالاتو ترسره کوونکې ازبکســتاني کمپنۍ ته د ۲۰ تنه تخنيکي کارکوونکو معرفي کول.<br>۶- د حيرتان – مزارشريف اوسپنې پټلۍ د خدمتونو په وړاندې کولو قرارداد کې ۷۰ سلنه تخفيف ترلاسه کول.<br>۷- په تېرو سل کالو کې د اوسپنې پټلۍ لومړۍ نقليه وسيله پېرودل او هېواد کې ترې ګټه اخيستل.<br>۸- له ازبکســتان هېواد څخه د اوســپنې پټلۍ په برخه کې فارغ شوي محصــلينو له ډلې ۱۷ تنه د ادارې په تخنيکي برخه کې استخدام.<br>۹- له پولي تخنيک پوهنتون سره په بېلابېلو برخو کې همکاري.<br>۱۰- د افغان ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژې چارې په برياليتوب سره مخ ته وړل.<br>۱۱- د خواف – هرات ۳مه ټوټې اوسپنې پټلۍ له لارې د سوداګريزو توکو د لېږد را لېږد پيل.<br>۱۲- په دوامداره توګه د اوسپنې پټلۍ د حفظ او مراقبت چارې ترسره کول.<br>۱۳- ډيجيټل حکومتولي کې د پام وړ پرمختګ او لاسته راوړنې.<br>۱۴- د سوداګرو او کارکوونکو د هوساينې په موخه حيرتان بندر کې د اداري تعمير جوړول. |

| د ۱۴۰۱ هـ.ش. له اسد د ۱۴۰۲هـ.ش. تر اسد مياشتې (۱۴۴۴ هجري قمري) کال عمده لاسته راوړنې (تفصيل) |
|---|
| **۱- انتقالاتو کې ډېروالی**<br>اوسپنې پټلۍ اداره تل هڅه کوي د سوداګريزو توکو د لېږد را لېږد بهير روان وساتي او تر وسه وسه زياتوالی په کې راولي. په بندرونو کې موجودو ادارو سره د همغږۍ ډېروالی، د مسلکي، متعهد او په کار پوه پرسـونل ګمارلو او وخت په وخت له چارو څخه ليدنه د دې لامل شوه چې د ۱۴۴۳هــــ.ق. کال ۱۲ مياشتو په پرتله د ۱۴۴۴ کال ۱۲ مياشتو انتقالات د پام وړ ډېر شي. د |

۱۴۴۴هـ.ق. کال په ۱۲ میاشتو کې د افغانستان د اوسپنې پټلۍ له ټولو سټېشنونو څخه په مجموعي ډول (۴،۵۹۲،۱۰۹) متریک ټنه انتقالات شوي دي، په داسې حال کې چې د ۱۴۴۳هـــ.ق. کال ۱۲ میاشتو کې (۳،٦٥٨،٥٧٨) متریک ټنه انتقالات شوي وو چې په ټوله کې (۲۵) ســـلنه ډېروالی ښــيي. په هره کچې چې انتقالات ډېرېږي؛ په هماغه کچه د بیت المال عواید ډېرېږي، هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابرېږي او په ټوله کې اقتصادي ودې ته لار هوارېږي.

**۲- عوایدو کې ډېروالی**

تیر نظام کې موجود مالي فســاد، د قدرت جزیرې، مافیا او زورواکي د دې لامل شوي وو چې د دولت عواید په منظمه توګه ټول نه شي، د عوایدو لویه برخه شخصي جیبونو ته لاړې شي. د الله په فضل او کرم د اسلامي امارت ځواکونو له لوري د کابل له فتحې سره سم مالي فساد تر ټولو ټیټې کچې ته را ټیټ شو. هغه زورواکي او مافیایي ډلې چې د بیت المال عواید دوی ولکه کړي وو، وتښتېدل. دا او دې ته ورته دلیلونه د دې لامل شوه چې د اوسپنې پټلۍ ادارې په عوایدو کې د پام وړ ډېروالی راشي. د تیر کال ۴ میاشتو په پرتله سږ کال ۴ میاشتو کې د اوسپنې پټلۍ ادارې عواید (۲۵) سلنه ډېر شوي دي.

**۳- ترکمنستان هېواد ته د اوســپنې پټلۍ په برخه کې د ۱۳ تنه تخنیکي کارکوونکو لېږل او د هغوی له تجربو د اوسپنې پټلۍ په پراختیا کې ګټه اخیستل**

د ۱۴۰۱هـــ.ش. کال د جدي میاشت په ۲۴مه نېټه د افغانستان د اوسپنې پټلۍ ادارې لومړۍ ډله ۱۳ تنه کارکوونکي د لنډ مهاله تخنیکي زده‌کړو لپاره د تورغونډۍ بندر له لارې ترکمنستان هېواد ته ولېږل شول.

دغه ۱۳ تنه کارکوونکو د ۴ میاشتو لپاره یاد هېواد کې د اوسپنې پټلۍ اړوند تخنیکي زده‌کړې وکړې او د روان کال ثور میاشت کې بېرته هېواد ته راستانه شول. اوس مهال د دوی له تجربو، هنر او مسلک څخه د اوسپنې پټلۍ ادارې کې ګټه اخیستل کیږي. همدارنګه یوه بله ډله تخنیکي کارکوونکي چې شمېر یې ۱۴ تنه دی، ترکمنستان هېواد ته یې د تخنیکي زده کړو د لېږلو ټولې چارې ترسره شوي دي او تمه ده د زمري په۸مه نېټه یاد هېواد ته په سفر روان شي.

د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره هڅه کوي له ګاونډیو هېوادونو څخه د اوســپنې پټلۍ اړوند نورې تعلیمي بورسیې هم ترلاسه کړي څو وکولای شي د اوسپنې پټلۍ ټولې چارې د افغاني کدرونو پر مټ مخ ته یوسي.

**۴- ایران هېواد ته د ریلي نقلیه وســیلې (درزین) او د اوســپنې پټلۍ د ارتباطاتو او ســیګنالینګ په برخه کې د ۴ تنه تخنیکي کارکوونکو لېږل او د هغوی له تجربو د اوسپنې پټلۍ په پراختیا کې ګټه اخیستل**

د هغه تعهد په اســاس چې د اوســپنې پټلۍ ادارې رهبري یې لري او له مخې یې ټینګه اراده موجوده ده چې د اوســپنې پټلۍ ټولې چارې باید د افغان کدرونو له لوري مخ ته یوړل شي، دغه اداره هڅه کوي خپلو کارکوونکو او په ټوله کې افغان محصلینو ته په ګاونډیو هېوادونو کې د اوسپنې پټلۍ په برخه کې د عملي زده کړو بورسیې ترلاسه کړي.

په همدې سلسله دغې ادارې وکولای شو د اوسپنې پټلۍ د ارتباطاتو (SDH) او درزین (نقلیه وسیله) اړوند د ایران هېواد ته ۴ تنه تخنیکي کارکوونکي ولیږي. دغه کارکوونکو د ۲ اونیو لپاره ایران کې عملي زده کړې ترلاسه کړې او بېرته هېواد ته راستانه شول او اوس بېرته خپلو دندو ته دوام ورکوي.

د افغاني کدرونو روزنه په اوږدمهال کې د ســتراتیژیکو ګټو ترڅنګ، ارزښــتناکه لنډمهالې ګټې هم لري. مثلا افغان کدرونه په کم لګښت چارې مخ ته وړي، له جغرافیې سره ښه بلد دي او خپله پوهه نورو افغان کدرونو ته لېږدوي.

**۵- د حیرتان – مزارشریف اوســپنې پټلۍ د انتقالاتو ترسره کوونکې ازبکســتاني کمپنۍ ته د ۲۰ تنه تخنیکي کارکوونکو معرفي کول**

د هغه تعهد په اساس چې د اوسپنې پټلۍ اداري رهبري یې لري او له مخې یې ټینګه اراده موجوده ده چې د اوسپنې پټلۍ ټولې چارې باید د افغان کدرونو له لوري مخ ته یوړل شي، دغه اداري روان کال کې د بلخ اوسپنې پټلۍ ریاست د تخنیکي برخې ۲۰ تنه کارکوونکي سوګډیانا ټرانس ازبکستاني کمپنۍ ته چې د حیرتان- مزارشریف اوسپنې پټلۍ انتقالات ترسره کوي، د ٦ میا شتنۍ عملي زده کړو برنامې ته معرفي شول. دغه ۲۰ تنه کارکوونکي هره ورځ د ازبکستاني کمپنۍ له متخصصینو سره یوځای د حیرتان – مزارشریف اوسپنې پټلۍ د انتقالاتو په عملیاتي بهیر کې ونډه اخلي او نوي موارد زده کوي.

**٦- د حیرتان – مزارشریف اوسپنې پټلۍ د خدمتونو په وړاندې کولو قرارداد کې ۷۰ سلنه تخفیف ترلاسه کول**

څنګه چې محترم هېوادوال خبر دي، د حیرتان – مزارشریف اوسپنې پټلۍ د ټولو انتقالاتو او خدماتو قرارداد له څه کم ۱۲ کالو راهیسې د ازبکستان له سوګډیانا ټرانس کمپنۍ سره شوی دی. دغه قرارداد چې د پرځېدلې اداري پرمهال لاسلیک شوی دی، د انتقالاتو او خدماتو د اجراء کولو په بدل کې قراردادي کمپنۍ ته هر کال د ۳۲ میلونه ډالرو شاوخوا پیسې ورکول کېدې. په همدې سلسله تر فتحې یوکال مخکې یادې کمپنۍ سره د ۱۸ میلیونه ډالرو په حدودو کې قرارداد شوی وو. د فتحې په لومړي کال دغه قرارداد د ۱۵ میلیونو ډالرو په حدودو کې لاسلیک شوی وو.

له نېکه مرغه ۱۴۴۴هـــــق. کال کې یاد قرارداد د ۳،۷ میلیون ډالرو په بدل کې له یادې کمپنۍ سره لاسلیک شو. همداراز د اوسني قرارداد یوه بله ګټه دا ده چې د اوسني قرارداد مدیریت د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره کوي او قراردادي شرکت یوازې خدمات ترسره کوي.

**۷- په تېرو سل کالو کې د اوسپنې پټلۍ لومړۍ نقلیه وسیله پېرودل او هېواد کې ترې ګټه اخیستل**

د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره وتوانېده په لومړي ځل د اوسپنې پټلۍ اړوند یوه عراده نقلیه وسیله (درزین) له ایران هېواد څخه وپېري او هېواد وارد او د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ پروژه کې ترې ګټه واخلي. د اوسپنې پټلۍ دغه نقلیه وسیله چې درزین هم یادیږي، د اوسپنې پټلۍ د حفظ او مراقبت او په ټوله کې د تخنیکي پرسونل او تجهیزاتو د لیږد را لیږد لپاره کاریږي. د یاد درزین څخه د ګټه اخیستنې له امله د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ حفظ او مراقبت په کم لګښت او ښه توګه ترسره کیږي.

**۸- له ازبکستان هېواد څخه د اوسپنې پټلۍ په برخه کې فارغ شوي محصلینو له ډلې ۱۷ تنه د اداري په تخنیکي برخه کې استخدام**

د هغه تعهد په اساس چې اداره تل هڅه کوي د اوسپنې پټلۍ ټولې چارې افغاني کړي او افغاني کدرونو او استعدادونو ته کاري فرصتونه برابر کړي، د هغه (۲۵) تنه محصلینو له ډلې چې د اوسپنې پټلۍ په برخه کې زده کړو ته ازبکستان هېواد ته استول شوي وو او د لیسانس په کچه فارغ شول، (۱۷) تنه فارغان چې کار کولو ته چمتو او هېواد ته بېرته ستانه شوي وو، د اداري اړوند په تخنیکي او مسلکي بستونو کې وګمارل شول او اوس د خپلې تعلیمي رشتې مطابق ګران هېواد ته خدمت کوي.

**۹- له پولي تخنیک پوهنتون سره په بېلابېلو برخو کې همکاري**

د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره د هغه تعهد په اساس چې غواړي د اوسپنې پټلۍ ټولې چارې د افغاني کدرونو پر مټ مخ ته یوسي، د پولي تخنیک پوهنتون اوسپنې پټلۍ انجنیري له پوهنځي سره دوه اړخیزه همکاري کوي. دغه دوه اړخیزه همکاریو ته په کتو دغه اداري په تېر کال کې د پولي تخنیک پوهنتون د اوسپنې پټلۍ انجنیري پوهنځي ۳۰ تنه محصلینو ته د اداري په داخل کې د ۳ اوونیو لپاره د اوسپنې پټلۍ په بېلابېلو برخو لکه حفظ او مراقبت، د عملیاتو پلانګذاري، تخلیه او بارګیري، د پټلۍ ډیزاین، مدیریت او ګټه اخیستنه کې روزنیزه برنامه ترتیب کړه. همداراز د یاد پوهنځي ۲۰ تنه محصلینو ته د یوې اوونۍ لپاره د حیرتان – مزارشریف اوسپنې پټلۍ پروژې اړوند د عملي زده کړو برنامه برابره شوه او یادو محصلینو د اوسپنې پټلۍ له بېلابېلو عملیاتي برخو لکه حفظ او مراقبت، تخلیه او بارګیري، د رېل ګاډو کنټرول، دیسپېچري، تیلکام خونه، د ارتباطاتو سیستم او د لوکوموتیو او واګونونو تخنیکي موارد تشریح او تدریس شول.

د دې ترځنګ تېر کال کې د افغانستان د اوسپنې پټلۍ ادارې د پولي تخنیک پوهنتون اوسپنې پټلۍ انجنیري پوهنځي څخه د فارغ شوي محصلینو له ډلې د ۴۰ شاوخوا محصلین د ادارې په تخنیکي او مسلکي برخو کې په دندو ګمارلي دي.

**۱۰- د افغان ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژې چارې په بریالیتوب سره مخ ته وړل**

افغان ټرانس پروژه چې د سیمې هېوادونو مشترکه پروژه ده، د افغانستان له خاورې د مرکزي اسیا هېوادونه له جنوبي اسیا سره وصلوي. دا مهمه انکشافي پروژه چې باید کلونه مخکې یې چارې پیل شوي وای، خو د ځینې ناموجه دلایلو له امله یې چارې ځنډېدلې وې. د اوسپنې پټلۍ ادارې رهبري په ځانګړې پاملرنه او د سیمې هېوادونو سره په پوره همغږۍ د دې پروژې لومړنۍ چارې پیل شوې. د ۱۴۰۱ کال د زمري میا شتې په ۵ مه د افغانستان، ازبکستان او پاکستان هېوادونو د اوسپنې پټلۍ تخنیکي ټیمونو له لوري د دې پروژې د مسیر ابتدایي سروې پیل او د همدې میاشتې په ۱۹مه په پوره بریالیتوب سره پای ته ورسیده. په همدې سلسله د دې پروژې د چارو د مخ ته وړلو په موخه د درې واړه هېوادونو له لوري د ازبکستان په تا شکند ښار کې ګډ دفتر پرانېستل شو، چې دوه نور دفترونه به یې کابل او اسلام اباد کې هم فعالیږي. د دې په دوام اسلام باد کې درې اړخیزه ناسته دایر شوه، چې په کې ځینې مهم توافقات ترلاسه شول. یو هم د افغان ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژې د چارو د مخ ته وړلو یو کلن پلان او د مسیر نهایي کول وو.

هېره دې نه وي چې د ازبکستان او پاکستان د اوسپنې پټلۍ ادارو د افغان حکومت له لوري نیول شویو تابیاوو او په ځانګړې توګه د اوسپنې پټلۍ ادارې له هر اړخیزه تیاریو او مسلکي کار څخه خوښي وښوده او اداره یې د تقدیر او ستاینې وړ وبلله.

**۱۱- د خواف – هرات ۳مه ټوټې اوسپنې پټلۍ له لارې د سوداګریزو توکو د لېږد را لېږد پیل**

هرات ولایت کې د یو لړ مراســمو په ترڅ کې د خواف-هرات اوســپنې پټلۍ له لارې له ایران هېواد سره د ســوداګریزو توکو انتقالات پیل شوه.

دغه افتتاحیه مراسمو کې چې د افغانستان د اوسپنې پټلۍ ادارې د عمومي رئیس الحاج ملا بخت الرحمن شرافت په ګډون لوړ رتبه افغان او ایراني مسـؤلینو حضـور درلود، لومړی د اوسـپنې پټلۍ ادارې عمومي رئیس ښـاغلي شرافت پیلیزه وینا وکړه او له ایران هېواد څخه راغلي میلمنو ته یې د ښــه راغلاســت ویلو ترڅنګ وویل: له ایران هېواد سره د انتقالاتو پیل نه یوازې دا چې دواړو هېوادو ته ګټه رسوي، بلکې سیمې ته یې هم اقتصادي ګټه رسیږي، چې دا د خوښي خبر ده.

د غونډې په جریان کې د ایران هېواد د پلاوي له لوري لومړی ویناوال د ایران هېواد د لارو او ښــار جوړونې وزارت ځانګړی استازی محترم میر شفیع وو، ښاغلي میرشفیع وویل: ایران هېواد په ټول توان چمتو دی له افغانستان سره د زیربناوو په ځانګړې توګه د اوسپنې پټلۍ پروژو په پلي کولو او پراختیا ورکولو کې مرسته وکړي.

همدارنګه دغه افتتاحیه مراسمو کې د هرات والي محترم شیخ مولانا نوراحمد اسلام جار، د ا.ا.ا ویاند محترم ذبیح الله مجاهد، د خراسان رضوي والي محترم یعقوب علي نظري او د اوسپنې پټلۍ کنسرسیوم مدیر عامل محترم مصطفی رضایي وینا وکړه او دواړه اړخونو د همکاریو په پیاوړتیا تاکید درلود.

**۱۲- په دوامداره توګه د اوسپنې پټلۍ د حفظ او مراقبت چارې ترسره کول**

د اوسپنې پټلۍ د حفظ او مراقبت چارې چې د افغانستان د اوسپنې پټلۍ ادارې له مهمو دندو څخه دي، همدې اصل ته په کتو د اوسپنې پټلۍ اداره په دوامداره توګه په هېواد کې د شته پټلیو حفظ او مراقبت ترسره کوي. همداراز دغه ادارې تېرکال کې د پټلۍ د حفظ او مراقبت لپاره (۱۰۰،۰۰۰) امریکایي ډالرو تجهیزات او یوه عراده درزین له ایران هېواد څخه وپېرلې. همداراز ادارې د آقینې – اندخوی او تورغونډۍ اوسپنې پټلیو د حفظ او مراقبت لپاره د عادي کارکوونکو شمېر دوه برابرو ته لوړ کړی دی چې له دغه کارکوونکو څخه له پټلۍ څخه د شګو پاکولو او د بلاست (جغل) د تصفیه کولو کار اخیستل کیږي.

**۱۳- ډیجیټل حکومتولي کې د پام وړ پرمختګ او لاسته راوړنې**

د اداري په دوامداره هڅو دغه اداره وتوانېده چې د ډیجیټل حکومتولي اړوند پرمختګ وکړي. په تېر یوه کال کې دغه اداره وتوانېده چې خپل ولایتي ریاستونه او بندرونه د امنیتي کېمرو تر پوښښ لاندې راولي او له مرکز څخه لاسرسی ورته ولري. د اوسپنې پټلۍ عوایدو راټولونه د نړیوالو سیستمونو لکهCBS, RMIS سره سم عیار او له همدې لارې راټول کړي.

همداراز دغه موده کې ٦ بېلابېل پرمختللي ډېټابیسونه جوړ شوي دي، چې کولای شو د کارکوونکو د حاضري او دغه حاضري بیا د معاشاتو له سیستم سره وصلول، د رسمي اسنادو او احکامو تعقیب، تېر ۵ کلن آرشیف ډیجیټل کول او د کارکوونکو د هوسایي په پار د معلوماتي ټکنالوژي یا (iT) Help Deskرامنځ ته کول یادونه وکړو.

**۱۴- د سوداګرو او کارکوونکو د هوسایي په موخه حیرتان بندر کې د اداري تعمیر جوړول**

د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره خپلو د بلخ ولایت حیرتان بندر کارکوونکو او سوداګرو د هوسایي په موخه حیرتان بندر کې یو باب اداري تعمیر جوړوي چې د ۱۴۰۲هـ.ش. کال جوزا میاشت کې یې چارې پیل شوې او تمه ده د ۱۴۰۲ هـ.ش. کال تر پایه به یې د جوړلو چارې پای ته ورسیږي. د دغه اداري تعمیر له جوړېدو سره به د اوسپنې پټلۍ بندري کارکوونکي د اداري شعبو د لرلو له امله خودکفا شي او به کولای شي د سوداګرو د غوښتنې په صورت کې۲۴ ساعتونه دنده اجراء کړي. همداراز سوداګر به وکولای شي په اساني سره یاد تعمیر ته مراجعه وکړي او خپلې چارې له نږدې د اوسپنې پټلۍ اداري له کارکوونکو سره همغږي کړي.

**د ۱۴۰۲ هجري شمسي (۱۴۴۵ هجري قمري) کال عمده پلانونه**

د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداري د ۱۴۰۲ هــــش. کال لپاره ځینې مهم فعالیتونه پلان کړي دي چې په لاندې توګه کتنه ورته کیږي:

**۱- د خواف – هرات څلورمې ټوټې لومړي فاز اوسپنې پټلۍ د جوړلو پیلول او پای ته رسول؛**

د دې پروژې د جوړولو چارې د تیرې اداري پرمهال ۳۵ سلنه ترسره شوي دي، چې بیا د ستونزو له امله په ټپه درېدلې وې. تمه ده ۱۴۰۲ کال کې پای ته ورسیږي او ګټه اخیستنې ته وسپارل شي.

**۲- د خواف – هرات څلورمې ټوټې دوهم فاز اوسپنې پټلۍ د جوړولو چارې پیلول؛**

دغه پروژه چې د هرات ولایت د ده سرخ څخه پیل او تر هوایي میدان او صــنعتي ښـارګوټي پورې رسـیږي، یو له هغه پروژه څخه ده چې د ۱۴۰۲ کال لپاره د ا.ا.ا کابینې له لوري منظور شوې ده. د دغه پروژې اوږدوالی ۴۷ کیلومتره دی.

**۳- د اندخوی – شبرغان اوسپنې پټلۍ پروژې د جوړولو پیل؛**

دغه پروژه چې ۷۰ کیلومتره اوږدوالی لري، د هغه پروژو له ډلې ده چې د ۱۴۰۲ هــش. کال په پلان کې د ا.ا.ا کابینې له لوري منظور شوې ده.

**۴- د اوسپنې پټلۍ د خدمتونو د پراختیا او ښه والي په موخه د آقینې او خواف – هرات اوسـپنې پټلیو ته د یوه – یوه عراده مانوري لوکوموتیونو پېرودل؛**

د افغانســـتان د اوســپنې پټلۍ اداره هوډ لري د خواف – هرات او آقینې اندخوی اوســپنې پټلۍ لپاره دوه عراده مـانوري لوکوموتیونه وپېري، چې ورسره به د سـوداګریزو توکو د انتقالاتو کچه ډېره، سوداګریز توکي پر وخت سره تخلیه او بارګیري او په ټوله کې به د اداري عواید ډېر کړي.

**۵ - د آقینې، روزنک، تورغونډۍ او حیرتان – مزارشریف اوسپنې پټلۍ د سټیشنونو پراختیا؛**

**٦- د افغان ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژې چارې تعقیبول؛**

**۷-د کارکوونکو د ظرفیت لوړلو لپاره بېلابېلې روزنیزې برنامې دایرول؛**

**۸- د سپین بولدک – چمن اوسپنې پټلۍ چارې تعقیبول؛**

۹- د اوسپنې پټلۍ د مسلکي انستیتیوت د نصاب او اړوند تجهیزاتو برابرول؛

**پای!**